قدرمن وړور ثناګل "مدثر" سلامونو ته دي وعليكم السلام وايو. مونږ هم له لوي څښتن تعالي څخه درته روغتيا اوبريالتوب غواړو.

وروره! دنيكواحساساتو قدرداني دي كوو. له ليك څخه مو معلوميږي چي ان شاالله دګرندي استعداد خاوند ياستي. زمونږ سره دليكني اړيكي بايد تل وساتي. دادي ليك مودرته كټ مټ خپور كړ اوشعرمو دځينو نيمګړتياو له امله دخپريدو څخه پاتي شو. هيله ده چي قلم به په ځنګه نه ږدي. (اداره)

د دوستانو خوښي غواړو

دجامعه امداد العلوم اسلاميه محصل فضل قاضي انډيوال!

ديوي پاڼي پرداوړو مخونو ليكلي ليك دي راورسيد اوهغه دمسئولو اشخاصو له نظره تيراودمطالعي څخه وروسته يي خپل نظر داسي وړاندي كړي چي لرلي يي.

دشهادت ورځپاڼي ټولي خپروني په همدي متمركزي دي چي جهادي مشران دي دخپل اسلامي اوملي مسئوليت په اداكولو كي هيڅ ځنډنكوي اوخومره چي ژركيداي شي

مسؤلیت هاي مربیون درقبال اولاد

پیوسته به گذشته
ترجمه :وحدتیار

تربیهٔ روحي و رواني اولاد

۲- مراعات تدریج درتربیهٔ اولاد : والدین باید درتربیهٔ اولادشان تدریج وترتیب رامراعات کنند اگراولادبه نصیحت وتنبیه اصلاح شوند به حربهٔ دیگردست نزنند واگربه دوري وکناره گیري ازآنها اصلاح مي شدند به لت وکوب متوسل نگردد. اگرتمام وسایل وحربه هاقبل اززدن بحال اولاد موثرواقع نه شددرآنصورت باید به لت وکوب مبادرت ورزیده براي اصلاح اولاد ازین حربه آخري استفاده نمایند .
ان شاء الله بحث تفصیلي درین رابطه درمبحث (التربیة بالعقوبة) خواهدآمد
۳- اولاد باید طوري تربیه شوند که باسختي هامقابله کرده بتوانند، اعتماد به نفس داشته باشندمسوولیت بدوش گیرند وجرائت اخلاقي داشته باشند .
پیامبرعلیه السلام مي فرماید : اياکم والتنعم فان عبادالله لیسوابالمتنعمین - رواه احمد عن معاذبن جبل .
برشماست که ازتنعم پرهیزکنیدزیرا بندگان خدا نعمت پسندمي باشند .
به همین ترتیب عمررضي الله عنه مي فرماید : اولاد خویش راآب بازي، تیراندازي بیاموزید وبه آنها دستوربدهیدکه باخیزوجست براسپ سوارشوند .
٤- اقتدابه پیامبرعلیه السلام ازسن خوردسالي تاآنکه جوان شدوبه پیغمبري مبعوث گردید، زیرااورا خداوند ادب داده وبهترین تادیبي است که باید پیروي شود .
اکنون مانمونه هایي ازتمام مراحل زندگي آن حضرت صلي الله علیه وسلم خصوصاً ازدورهٔ طفولیت وجواني اوتقدیم مي کنیم تابراي والدین اسوه والگوباشددرتربیهٔ سالم اولاد .
- پیامبرعلیه السلام درخوردسالي بزوگوسپند مي چرانید، امام بخاري روایت مي کند : قال علیه الصلوة والسلام مابعث الله نبیاالارعی الغنم نعم کنت ارعا ها علي قراریط لاهل مکه .
پیامبر علیه السلام فرمود: خداوند هیچ پیامبري رامبعوث نکرده مگراینکه اوبزوگوسفند چرانیده است بلي من هم دربدل چندقیراط براي اهل مکه بزوگوسفند مي چرانیدم .
- پیامبرعلیه السلام درخوردسالي بااطفال بازي مي کرد: روي ابن کثیرعن رسول الله صلي الله علیه وسلم انه قال: لقدرایتني في غلمان من قریش ننقل الحجاره لبعض مایلعب الغلمان کلنا قدتعري واخذ ازاره وجعله علي رقبته یحمل علیه الحجارة فاني لاقبل معهم کذلك و ادبراذلکمني لاکم - ماأراه ، لکمة وجیعة ثم قال شد علیك ازارك قال فاخذ ته فشددته علي ثم جعلت احمل الحجارة علي رقبتي وازاري عَلَيّ من بین اصحابي .
ابن کثیر روایت مي کند پیامبرعلیه السلام فرمود : من دربین اطفال قریش بودم که سنگ رابراي کدام نوع بازي انتقال میدادند ، همه ماازارخود راکشیده بردوش خویش قرارمیدادیم وبالاي آن سنگ رامي گذاشتیم ، به همین ترتیب بااطفال قریش مي رفتم ومي آمدم که ناگهان کسي مرابه مشت زد که اورانمي دیدم وگفت ازارخویش رابخودببند، پس ازارم راگرفتم وبه میان خویش بستم ، سپس همانطورسنگ هارابدوشم حمل مي کردم درمیان همقطارانم .
- پیامبرعلیه السلام درتعمیرکعبه سهم مي گرفت : روي البخاري ومسلم ، ولماشب رسول الله صلي الله علیه وسلم وبنیت الکعبه ذهب رسول الله صلي الله علیه وسلم ینقل الحجارة مع اشراف قریش بنائهافقال العباس لرسول الله صلي الله علیه وسلم اجعل ازارك علي عاتقك من الحجارة ففعل فخر الي الارض و طمحت عیناه الي السماء، ثم قام فقال : ازاري ازاري فشدعلیه ازاره وقال اني نهیت ان امشي عریاناً وهذا دلیل عصمته قبل النبوة .
ترجمه : بخاري ومسلم روایت مي کنند چون پیامبرعلیه السلام بجواني رسیدوکعبه بناشد، آنحضرت هم بابزرگان قریش سنگ حمل مي کردتاکعبه تعمیرگردد ، حضرت عباس برایش گفت ازارخویش را به دوش خویش زیرسنگ بگذارتاسنگ اذیت نکند، آنحضرت چنان کردوبه زمین افتاد وچشم هایش بطرف آسمان شد، سپس برخاست وگفت ازوام ازارم ،پس ازارخویش رابرخود بست وفرمود من ازعریان گشتن منع شده ام، مولف گویدابن دلیل عصمت اوقبل ازنبوت است.
- پیامبرعلیه السلام درسفرتجارت مي برآمد،چنانچه یك مرتبه قبل ازسن بلوغ باعمش ابوطالب سفرنموده ومرتبه دوم بعدازبلوغ براي مال التجارت حضرت خدیجه (رض) سفرنموده است .
- پیامبرعلیه السلام درطفولیت نهایت باجرا ئت بود.
چنانچه درکتب سیرت نوشته اندکه باري به پیامبرعلیه السلام گفتندکه به لات وعزي قسم یادکنددرحالیکه اوطفل بود، جواب داد راجع به این بتان ازمن مپرس زیرا ازین مبغوض ترنزدمن چیزي نیست .
- پیامبرعلیه السلام قبل ازبلوغ درجنگ هاشرکت نموده است چنانچه درکتب سیرت مذکوراست که وي درحرب الفجارشامل گردیده بود.
- پیامبرعلیه السلام درطفولیت دانشمندوذهین بود، چنانچه واقعهٔ خصومت بالاي گذاشتن حجر الاسود وفیصله آنحضرت درین باب معروف است.
این فخروشرف براي آنحضرت صلي الله علیه وسلم کفایت مي کنددرحالیکه یتیم است اماطوري تربیه مي شود که داراي خصایل حمیده ،صفات عالي وعادات پسندیده مي باشد، هیچگاه جلوبتان مشرکین سجده نکرد، درمفاسدجاهلي مشرکین سهیم نگردیدوهیچگاه ازقرباني ومذبوحهٔ ان هانچشید، جاي تعجب نیست زیرا این همه اثرات تربیه پروردگاراست که او راطرف عنایت خاص خود قرارداد ودرحضورخویش به تربیهٔ وي پرداخت چنانچه پیامبرعلیه السلام بطرف این حقیقت اشاره کرده مي فرماید: ادبني ربي فاحسن تادیبي رواه العسکري، یعني پروردگارم مراادب داد پس به بهترین صورت مراتادیب کرد .
این بودمراحل مختلف حیات پیامبرعلیه السلام ،طفولیت او، شباب وجواني اووغیره ودرین شك نیست که پیامبرعلیه السلام قدوه واسوهٔ صالحه است درتمام مراحل زندگي خویش درطفولیت ،جواني، پختگي وکهولتش ومشعلي است که مربیون واولیاي امور اطفال را درهرمرحله زندگي راه درخشان مي نمایاند .

یتیم شدن اولاد :

این عنصر هم ازعواملي است که باعث انحراف رواني اطفال گردیده درآنها احساس کهتري بوجودمي آورد خصوصاً که یتیم محیطي نداشته باشدکه درتربیه وپرورش اواقدام کند، بطرف اونظرلطف وعنایت نمایدوحوایجش رابرآورده نماید .
دین اسلام راجع به یتیم اهتمام زیادي نموده تاعضو مفیدونافع جامعهٔ خویش بارآیدوبه نوبهٔ خود بارمسوولیت اجتماعي خویش را حمل کند .
خداوند مي فرماید : فاماالیتیم فلاتقهر، امایتیم پس براوقهرمکن .
درجاي دیگرمي فرماید: ارایت الذي یکذب بالدین فذلك الذي یدع الیتیم آیادیدي آنکه راکه روزجزاراتکذیب مي کند پس اوکسي است که یتیم رامي راند .
پیامبرعلیه السلام هم درباب تربیه ، کفالت وپرورش یتیم اهتمام نموده مي فرماید : روي الترمذي انه علیه الصلاة والسلام قال : اناوکافل الیتیم في الجنة کهاتین واشارباصبعیه یعني السبابه والوسطي . یعني من ومتکفل یتیم درجنت مانندابن دوانگشت باهم یکجامي باشیم درینوقت پیامبرعلیه السلام بطرف دوانگشت سبابه ووسطي اشاره کرد. اوامه دارد

په اسلام کې د ټولنیز نظام ځانګړتیاوې

"په ټیریسي" ژباړن : محمد عابد "منصور"

الله فرمايي (و من آیاته ان خلق لکم من انفسکم ازواجا لتسکنوا الیها وجعل بینکم مودة ورحمة)
ځکه خو قوام د ناریته په ښځینه باندي په دوستي اومرحمت باندي ولاړ دی
هغه دوستي اوترحم چي الله تعالي د دوي دواړوپه زړونوکي په ژوره توګه ورته ځاي ورکړي دي بنا" پهدغه کي څه مضایقه نشته او نه دښځي کرامت جریحه دارکیږي .
اوپه ښځه باندي دمیړه له حقوقو څخه داچي دخپل میړه سره به په هیڅ شي کي خیانت نکوي په کارونو کي به ورسره تعاون لري پدي خاطر چي په ژوند کي یو له بله سره شریکي لري ،ښځه به داولاد په تربیه کي زیار باسي اوبل څوك له دغي عهد ي څخه وتلي نشي ، اونه بل څوك دهغي ځاي دکولي شي ، ځکه مورچي دخپل اولاد په نسبت کومه مینه اوعاطفه لري دبل چاسره نشته ،کله چي ښځي د اولاد دسرپرستي دنده سرته ورسوله نودیوسلیم نسل په وده کي بي پوره برخه واخیسته اودهغي دغه عمل اوکار روابي تربل هرهغه کار اوعمل نه بهتر دئ چي دکور څخه بي دباندي سرته رسوي .
ځلورم : په ټولنه کي دښځي دناستي ولاړي لپاره حدود ټاکل :
د اسلام د ټولنیز نظام له ځانګړتیاو و څخه یوداچي په ټولنه کي بي دښځي دمرکزیت اوناستي ولاړي لپاره دقیق ، واضح ، صریح ، اومفصل حدود ټاکلي دي ، چي په دغه خورا خطیره مسئله کي دهوااوهوس هیڅ مداخله نشته حتي چي د ټولني لپاره بي پدي برخه کي پاکي نظافت اوعفت رامینځ ته کړي د ي، چي په نتیجه کي به امانت لرونکي ،قوي ، اونکره نسلونه روزل کیږي او بیا به ټولنه په صلاح اواستقامت باندي پاتیږي ،او افراد به بي په نیك بختي سعادت کي هستوګنه لري ، دښځي داجتماعي مرکز دمحدودیت ،هغي ،کرو ورو په هکله اودا چي هغي سره څه دي اوبیا دهغي په ذمه باندي څه دي په دي ټولو باندي دقراني آیتونو تصریح شویده ،همدي ته ورته په نبوي احادیثو کي په مفصل دول وریاندي څیړنه شوي ده .
په ټولنه کي داسلام څخه دمخه دښځي هستوګنه :
ښه به داوي چي تر اسلام دمخه په عربي جاهلي ټولنه کي چي ښځو کومه هستوګنه درلوده ،دهغي څه یادونه وکړو ، ترڅو دهغي لویي اصلاح په هکله چي اسلام پخپلو راتلو سره په دغه مسئله کي خپل لطف اوعنایت کړي دي راته ښه پته ولګیږي او د اسلام ددغه اصلاحي نظام په رڼاکي به هغه عیبونه خطاګاني او اباطیل چي په دغه موضوع کي تراسلام دمخه خلکو وریاندي تکیه درلوده راته براﻻ اوروښانه شي اوبیا به بي مرتب اثرداوي چي اسلامي ټولنه باید د دوهم ځل لپاره په همغه ناورین کي لاهو نشي .
له حضرت عمر رضي االله عنه څخه روایت دي چي فرمايي : (داسلام پرده اوجامه به هله څیري ویري شي چي په اسلامي امت هغه څوك وده وموعي چي دجاهلیت له دوري څخه بي خبره وي) رښتیاهم که موږه دجاهلیت دي دوري مقاسد اوناخوالي ونه پیژنو له هغوي څخه به ځان ساتنه راته ګرانه وي .
داسلام څخه مخکي د نورو ټولنو حال هم دعربي جاهلي ټولني سره یوشانته وو چي په لاندي ټوګه څوګوني وراندي کوو .
۱ - د اسلام څخه دمخه عرب قوم ښځي ته دتوهین اوحقارت په سترګه کتل ،او چي کله به بي ښځینه اولاد وشو نو به وریاندي دیرغمجن و آن تردي چي ژوندي به بي په خاورو کي ښخول.
۲- ښځه له میراث څخه بي برخي وه اومیراث یوازي دناریته و حق بلل کیده
۳ - دټبري اوظلم په وراندي بي هیڅ نشو کولاي ، کله به چي ښځه کونډه شوه نو په زورسره به بي واده کوله اویاخوبي په زور له واده څخه ایسار وله ،ومیړه دظلم له وجهي کولي شو چي خپله ښځه دتعلیق په حال کي وساتي پدي معنا چي نه به طلاقه وه اونه متزوجه .
٤ - اروپایانو دښځي په برخه کي بیل بیل نظر یات درلودل ،له هغوي څخه داچي د روم ځینو کلیساګانو پدي ټینګار درلوده چي ښځه یوخبیث حیوان دي چي د پاك روح ځښتنه نشي کیدلاي .
٥ - په روماني قانون کي میړه حق درلود چي خپله ښځه خرڅه کړي ،اوټوله دارایي ورڅخه واخلي .
٦ - ترټولو لویه خبره دا چي دعامه آدابو په هکله دښځي لپاره څخه قیودات اوینديزونه نه وو،په هره جامه اوهرشکل کي کولي شو چي له نارینه و سره ناسته ولاړه ولري .
ددغو ټولو په خلاف په اسلامي ټولنه کي ښځه دنارینه په شان د ژوند کولو حق لري ، ځان اومال بي له تجاوز اوتیري څخه په امن باندي وي ، په همدي خاطر که ښحه عمداً ووژل شي سري وریاند قصاص کیږي .
ښځه دیوه انسان په توګه دتکریم اوعزت اهل بلله کیږي ځکه الله تعالي فرمايي (ولقدکرمنابني آدم) اوهم ښځه کولي شي په مشروعه توګه دځان لپاره میره پیداکړي ځکه هغه دمالي او غیرمالي حقوقوڅه وارثه څخه وتلي شي چي د ښځي له مال وسایلو څخه بوهم دمیراث حق دي چي اسلام ورته ثابت کړي دي اوهم په نکاح کي ورته دمهر حق دي ،همدیته ورته په اسلام کي ښځهٔ دزیاتو نه زیاتو حقونو څښتنه ده .

نوربیا

دشهید خوپوښتني

ځکرن محمد داؤد "یتیم یار"

زه دخوارو خوارو خاورو لاندي په وینو ګښتي لت پت ددي خاوري اوملت په سرمایه هغه لوي شوي اومظلوم بچي وم چي د خپلي خاوري دعزت اودهغي اسلامي تشخص دبرقرارساتلو لپاره دسرووروسانو او هغو د پس فطرته تالي څټو مزدورانو سره وجنګیدم اودااعلاي کلمة الله او دحق د اقامي په خاطر به جهاد اومجاهده کښي دشهادت دمرګ په ابدي خوب ویده شوم .
ګرانه : زما خود وس اوتوان نه داپوره شوه چي خپل سر د الله (ج) په لاره کښي نذرانه کړم اودخپلو پاکو وینو په قیمت دجهاد حقانیت د نړي خلکو اوپرګنو ته وښیم .
خو اي زمادکاروان او قافلي همسنګره ژوندي مجاهده وروره !
پداسي حال کښي چي زه ویده یم او ته ویښ زه دځمکي لاندي په لحد کښي یم اوته دځمکي دپاسه په ژوند وخلکو کښي ګرځي داراته ووایه ؟
چي دخپل مبارزي کاروان دي ترکومه ځاي رسولي دي ؟
آیا په نیمايي لاره کښي ولاړیي اوکه پرمخه ځي اوکه نه ددنیا سره دډیرشوق اورغبت نه په شا روان یي ؟
زه د خپلي کورني یواځني سرپرست اوکفیل . دي هرڅه مسولیتونو څخه بي پروامي دجهاد ګرم سنګر ته دمظلوم اوبیچاره ولس د خلاصون لپاره وداتګل اودخپلي کورني ټول وارثین مي چي اوس دیتیمانو په نامه یادیږي د الله (ج) آسري ته پداسي حال کښي چي ته ژوندي یي پریښودل ،ماسره د خپلي کورني ددي ټولو راتلونکي ناخوالو اوپي کښي ویره اوخوف موجود د چي اخترپه بي څنګه وي روخ او تاروغ به بي څنګه وي .
خوزما په زړه کښي دوه میني ته ځاي دي مادخپلي کورني سره مینه د الله (ج) سره د وفا په خاطر پریښوده اوالله (ج) سره میني اومحبت ته مي ترجیح ورکړه .
زما ګرانه همسنګره وروره !
پداسي حال کښي چي زه ویده یم اوزما له تاسره هیڅ کومك دلاسه نه کیږي چي په اصلاح کښي دي کوښښ وکړم خودا راته اقلاً ووایه چي تا له خپلي مبارزي اومجاهدي ځان ته
اومظلوم ملت ته څه ورکړي آیا ستاد مجاهدي اوجهاد مخه خو به دغو شیانو دب کړي نه وي ؟!
ښه کوروته - خو ښکلي ښځي -لوکس موټرونه اوډیري نمایشي سلاح ګاني اوپیسي زما هدف او غایه خو په افغانستان کښي دسوچه اسلامي حکومت قیام و، او ددي هدف لپاره مي عملاً قرباني هم ورکړه چي زمادتن په نذرانه کیدو تمامه شوه . ماغوښتل چي داسي اسلامي حکومت جوړ شي چي هرصالح وطنوال مو پخپله خوښه پرته له خوف او هراس د خپلي خوښي له امیر سره په اسلامي اصولو د بیعت مراسم ترسره کړي اوداد نړي دخلکولپاره یومثال شي مشراوامیردملت باید د خرګنده اوآزاد بیعت په اساس دحکومت چاري په لاس کښي واخلي اوبیا هر چا ته د خپل اهلیت په بناوظایف وسپاري .خونن زما د وارثینو په زړونوکښي ساتلي ارمانونه ټول راته ضایع ښکاري نن راته خپل ټولي پخواني غوښتني اوارمانونه دنظره لیري اومحال ښکاري چي زما په اصولوولاړ ارمانونه دعمل جامعه واغوندي هو ! اوس ستاپه کارکردګي سخت بدګمانه یم اوخپل مظلوم شهید روح راته بي شمیره سوالونه مطرح کړي دي.
اول دا چي تا زمادهدف او غایي پرخلاف ولي زما له دښمن سره په جبل السراج کښي ائتلاف وکړ ؟ تاولي زما وینه دومره سپکه وګڼله او زه دي خپلو وارثانو ته سپك کړي یم . زمابه مقابله کښي مردارشوي مرتد کس له ماسره برابر اوحقوق بي دمصیبونو اوشهدا په وزارت کښي مساوي ګڼي فقط ماله دومره قدري په رښتیا ځواب راکړه چي تاسره په حقیقت کښي آزادي شته او که نه .
په اخر کښي زما د بي شمیره لاینحل سوالونو څخه وروسته زه مجاهد ملت ته کوم پیغام نلرم خو دومره قدري وایم .

آبادي بتخانه ازویراني ماست
جمعیت کفرازپریشاني ماست
اسلام بذات خود ندارد عیبي
هرعیبي که است درمسلماني ماست.

####

بایدبدانیم

فضیلت نماز ها :

* ازحضرت ابوموسي رضي الله عنه روایت است که رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمود: کسیکه بردین (یعني نماز عشاوصبح) رابگزارد ، به بهشت داخل مي شود . (متفق علیه)
* حضرت ابوزهیر عماره بن اویبه رضي الله عنه روایت مي کند که ازرسول الله صلي الله علیه وسلم شنیدم که فرمود : کسیکه برنمازهاي پیش ازبرآمدن آفتاب وقبل ازغروب آفتاب (صبح وعصر) مداومت کند، هرگزبه جهنم داخل نمي شود . (رواه مسلم)
* ازحضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت است که رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمود: فرشتگاني درشب وفرشتگاني درروز دربي همدیگردرمیان شمامي آیندودرنمازصبح وعصر باهم یکجامي شوند، سپس آنانیکه باشما بودند بالامي روند وپروردگارشان درحالیکه به حال شان داناتراست ازآنان مي پرسد که بندگانم را درچه حالي ترك کردید؟ آن هامي گویند، آنها رادرحالي ترك کردیم که نمازمي گزاردند ونزدآن ها رفتیم درحالیکه نمازمي گزاردند .(متفق علیه)

سخنان برگزیده

* علم سرمایه اي است که کسي نمي تواند آنراسرقت کند .
* علم روشني یي است که کسي نمي تواند آنراخاموش کند .
*علم مانند بته گلي است که هرگزخشك نشود .
* لبخنددربرابر هرگونه مصایب ومشکلات شیوه دلیران است .
*گناه قلب رامضطرب وذهن راپریشان مي کند .
* همیشه مانددرختي باش که هرچند درگنده زارهامي روید مگرپاك وستره مي باشد.
* قلب کسي رامرنجان چه ، این گناه راالله تعالي عفونمي کند .
* لذتي که عفوکردن دارد، انتقام گرفتن ندارد.

ګټوراوتاریخي معلومات

۱- روښتني صحابي چي په شام کي وفات شوي ،هغه عبدالله بن بشیر ،باابوامامه (رض) ده.
۲- په حلالواوحراموباندي معاذبن جبل زیات عالم و.
۳- دابوهریره اصلي نوم عبدالرحمن بن صخرالدوسي دي چي دخیبرودفتحي په کال باندي ئي ایمان راوړي و .
٤- اخرني صحابي چي په مدینه کي وفات شوي حضرت جابر(رض) وه اوبه ۱۸ غزاګانو کي ئي شرکت پابرخه اخستي وه .
٥- انس بن مالك درسول الله (ص) ۱۰ کاله خدمت کړي اوبه بصره کي وفات شو .
٦- دحدیثو تدوین دحضرت عمر(رض) بن عبدالعزیز په وخت کي شروع شو .
۷- ددنیاترټولو لویه عبادت ځانه کعبه شریفه ده چي ٤۹ فټه لوړوالي لري .
۸- لومړني مسجد چي په اسلام کي اباد شوي مسجد قباء دي .
۹- ترټولو زیات پیغمبران دبني اسرائیلو په قوم کي رالیږل دي .
۱۰ دحروفو دعدد په حساب باندي دقرآن کریم نیمائي لفظ "وَلْيَتَلَطَّفْ" څخه دي .
۱۱- بیت المقدس لومړي ځل دپاره دحضرت عمربن خطاب په واسطه فتحه شو .
۱۲- لومړني سورت چي په مکمله توګه نازل شوي سورة الفاتحه دي اواخري سورة النصردي .
۱۳- په قرآن کریم کي سورة اخلاص ته ثلث القرآن ویل شوي دي .
۱٤- دامام ابوحنیفه اصلي نوم نعمان دي دپلارنوم ئي ثابت اودنیکه نوم ئي زوطي دي .
۱٥- په دنیا کي تقریباً یوملیارد مسلمانان دي .
۱٦- دکمونیزم مشهوررهبران عبارت دي انګلز ، مارکس، لینن ، ستالین ، څخه
(رالیږونکي : قدرت الله « مجاهد »)

وقایع مهم سال ۱۹۹٤ میلادي

۳ اپریل : دراثرآتش توپخانه صرب ها برشهر ګوراژدي سي نفر مسلمان شهید وصدنفر زخمي شدند .
٥ اپریل : عساکروحشي هندي مسلمانان کشمیري را ازاقاز ګذاردن صبح وخفتن درمساجدانشت ناګ منع نمودند .
۷ اپریل : طیاره حامل روساي جمهورراورنداوبراندي هدف راکت قرارګرفت وهردوکشته شدند ودرین دوکشورنظامیان به قدرت رسیدند .
۷ اپریل : پارلمان روسیه علیه یلتسین بغاوت کرد .
۱٤ اپریل : امریکادرشمال عراق دوهلیکوپترخودرا هدف قرارداد که درنتیجه آن بیست وشش نفر هلاك شدند .
۱٤ اپریل : کاروان صلح علماي پاکستان که عازم کابل بود توسط تفنګداران ادارهٔ انتلافي راکت باران ګردید .
۲۳ اپریل : ریچردنکسن رئیس جمهوراسبق امریکا ، درګذشت
۲۳ اپریل : طیاره مسافربردارتایواني سقوط کرد که درنتیجه آن دوصدوشصت ویك نفر هلاك شدند .
۲۷ اپریل : بیرق آزادي درافریقاي جنوبي به اهتزاز درآمد
۲۹ اپریل : بین طرفداران رئیس جمهور ومعاون رئیس جمهور یمن درګیري آغازشد
۳ مي : دراثر طوفان شدید دربنګله دیش یکصدوبیست وهفت نفر هلاك شدند
٤ مي : براي فسلطینیان درږومنطقه خودمختاري محدود داده شد
۸ مي : قواي یمن شمالي آخرین سنګردفاعي عدن راعبورګردند .
۱۱ مي : برصنعامرکزیمن شمالي ماراکت هاي سکد حمله شد ودرنتیجه بیست وچهارنفرهلاك شد

ازچارګوشه جهان

تهیه ونګارش : جمیل

۱۱مي : درمناطق خودمختار غزه بیرق فسلطین به اهتزازدرآمد
۱۷ مي : بین آذربایجان وارمنیا آتش بس صورت ګرفت
۲۱ مي : دوصد نفر پاکستاني که براي سپریه هندرفته بودند درډهلي لادرك شدند .
۲٤ مي : درمني دراثر هرج ومرج دوصد وپنجاه نفر حاجي شهیدشدند .
٦ جون : طیاره مسافربري چیني درجریان پروازداخلي سقوط کردویکصدوشصت نفر هلاك شدند .
۱۰ جون: درمناطق ریګستاني غرب چین بم اتمي آزمایش شد .
۱۲ جون : درنایجریانظامیان کودتا نمودند ورهبرحزب مخالف به قدرت رسید .
۱٥ جون: درروندا مخالفین حکومت آماده آتش بس شدند .
۱۷ جون : دراثر سیلاب وطوفان یکصدوسي نفر درچین هلاك شدند
۱۸ جون : یك دیپوي بزرګ سلاح عساکرهندي درکشمیر ازبین برده شد .
۲ جون : دراثر انفجاربم درمزارامام رضا واقع درمشهد ایران صدنفر کشته شدند .
۳ جولای : درشهرهاي مختلف پندي باران هاي شدیدبارید وآب به مرکزاتي دي جي خان داخل شد .
۱۱ جولای : وي سي چوهان یك عضو سفارت هند بالفعل به جرم جاسوسي دستګیرشد .
۲٤ جولای : دراثرحمله افراد مسلح هنګام هابرآسام هفتاد مسلمان شهید وصدنفر زخمي شدند .
۲٥ جولای : معاهده صلح بین اردن واسرائیل امضاشد وجنګ چهل وشش ساله خاتمه یافت

آیامیدانید

* بزرګترین استیشن ریل دنیا درروسیه واقع است
* درخت ناشپاتي تاصد سال حاصل مي دهد
* درداخل خانه زنبورعسل تقریباً نه هزار سوراخ مي باشد
* کوئل ، پرنده یي است که هیچګاه براي خود جال نمي سازد .
* قلب غوك پنج خانه دارد .
* آیس کریم درسال ۱٦۲۰ میلادي ایجاد شده است
* اوسط طول قدانسان هاپنج فت وسوانچ براورد شده است .
* دردنیا هفتصد ونودونوع ګلاب وجود دارد
* طول دیوارتاریخي چین چاروښیم هزارکیلومتراست.

#

ازعجائب جهان

* قدکوتاه ترین نسل انسان : درین دنیا یك نسلي ازقدکوتاه ترین انسان ها وجود داردکه مردوزن آن داراي قدهاي کوتاه اند، طول قداین نسل اوسطاً چارونیم فت است ودربین آن هاهیچ کسي قدبلند ترازچارونیم فت وجود ندارد . دربین آن هااګرقدکسي به چارفت ویازده انچ برسد، همه به نظر حیرت به او مینګرند ، یك نسل این انسان هاي قدکوتاه درجنګلات کشورهاي افریقایي مثل کانګو، کیبون ، روآندا ، بروندي وکمیرون وجوددارند . این مردم نه به ګله باني ، ولچسپي دارند ونه به لباس و ساختن خانه علاقه مي ګیرند، آنهانهایت ساده زندګي دارند وازشکار حیواناتي که توسط تیروکمان انجام میدهند سدجوع مي نمایند، زندګي آنهاشکل ګروهي است و مسن ترین شخص آن ها به حیث سردارتعین مي شود .
ازین نسل قدکوتاه هادرکشورهاي آسیایي هم وجود دارند واکثراً درجنګلات مالیزیا، ساترا ، نیوګني، اندمان وفلپین به شکل نهایت ساده وابتدایي زندګي مي کنند
* محمدعلي نام که زماني پادشاه مصربود، درجریان زمامداري اش سپاه بزرګي تشکیل داد و جالب اینکه تمام افراد محروم ازساعت (کر) رادرسپاه خود شامل نمود .
* درکشورپرمایك جهیلي وجود دارد که هرګاه هرکسي آنرا ببیند ، خنده اش مي ګیرد.

ازجهان ساینس

درشهرتوکیوي جاپان ساختمان بلند چندطبقه یي به نام «کجیمه» تعمیر شده است که درآن تعداد زیادي ازکارمندان دولتي مصروف کاراند، اولیاي اموربه خاطرافزایش محصول کارلوله هاي کمپیوتري اي درین ساختمان نصب کرده اندکه به طورمنظم دراوقات مختلف عطرهاي ګوناګون رادرفضاي اطاق کارمامورین پخش مي کند .
پخش عطرهاي خوشبو طوري تنظیم شده است که صبح وقت هنګام آغازکاربوي مطبوعي که به مسرت ونشاط کارمندان مي افزاید پخش مي شود. نزدیك ظهربوبي که تاثیرآرامش روحي وتحریك اشتهابراي غذاراداردو فضاي اطاق هارا معطرمي سازد، وبعدازظهرزمانیکه قواي کارکارمندان به تحلیل مي رود باردیګربراي تجدیدمسرت ونشاط آن هابوي عطراولي فضاي اطاق هاراپرمي کند محققین معتقداند این عطرهاي خوشبوکه بوهاي ګوناګون دارند باعث نشاط ،آرامش اعصاب وافزایش انرژي ګردیده درتولید محصول کارکارمندان نقش عمده دارد .

درباره خون

نوع و ګروپ خون درتزریق خون باید مراعات شود .
قبل از سال ۱۹ میلادي (سالیکه ګروپ هاي خوني مشخص شد) تزریق خون به اشخاص ګاهي منجر به مرګ وي مي شدتاجائیکه در بسیاري ازکشورها تزریق خون ممنوع ګردید ، تا آنکه ګروپ هاي خوني مشخص شد وعلت مرګ مریضي که خون مي ګیرد مشخص شد.
اګر نوع ګروپ خون درتزریق رعایت نشود همین که ګروپ خون مخالفي دربدن مریض تزریق شد ،مدافعین پلازماي خون (Anti Bodies)به مبارزه پرداخته وبه کشتن ګلبول هاي قرمز خون تزریق شده مي پردازند ، بدین طریق درجریان خون خلل وارد مي آید که منجر به مرګ مریض مي شود.
براي تزریق خون ضروري نیست که حتماً ګروپ خون آنها مشابه باشد ، بلکه باید هردوي آن ها به دسته بندي خوني وګروپ (RH) مناسب باشد.

اخبار جالب

دا وتاوا " ستات لیل " په ښار کښي موټښې ځلریښت کلن ښځي دا نهم کال دي چي خپلو نوکا نونه دي غوڅ کړي، دا ښځه چي " لي ریډمونډ " نومیږي هرګوټ تقریباً خپلو اوه ساعته وخت دخپلو نوکانو په صفا کولوتیروي اوتراوسه ددې نوکانواوږد والي ته انچوته رسیدلي دي .
" لي ریډ مونډ " اکثراً خپل عادي کارونه هم په آساني سره سرته نشي رسولي ، د" لي ریډمونډ خاوند چه"وول"
نومیږي وايي چي زه دخپلي ښځي څخه خطر احساسوم ځکه چي دهغي نوکان ډیراوږده دي ،باید ووایم چي ما ته کاله دیوه شرمښ سره ژوند تیرکړیدی .
(رالیږونکي : رحمت الله "فائز")

په اسلامي رياست کي دفقهي اختلافونو حل

په تير پسي

زيارن : عبدالودود "محسن"

فضل بن زيادوائي چي له ابوعبدالله (احمد بن حنبل) ځخه ددي حديث په باب پوښتنه وشوه چي مفهوم ئي په دي دول سره دي چي سنت دالله دکتاب پرخلاف پريکړه کولاي شي، هغه ځواب ورکړ : زه ددي خبري جرأت نه شم کولاي چي ووايم چي سنت دالله دکتاب پرخلاف پريکړه کولاي شي سنت خودالله دکتاب څرگندوونکي ځيزدي . فضل وايي چي ماله احمدبن حنبل نه داخبره واوريده چي ويل ئي سنت دقرآن يوه خبره هم منسوخولاي نه شي قرآن يواځي قرآن منسوخولاي شي. دسنت په باب دامذهب دامام شافعي (رح) اوامام مالك (رح) هم دي. ليکن په دي ځاي کي داخبره په يادساتل په کاردي لکه څرنگه چي سنت دقرآن داسي تفسيردي چي ديومعصوم له خواشوي دي هغه چي اجتهادئي له خطانه پاك اواستنباط ئي بالکل قطعي اوبي شبهي دي .

په دي خاطرمونږترقرآن وروسته دهغو(احاديثو) پيروي نه يواځي داچي ضروري گڼو بلکي داخبره هم صحيح گڼو چي دهغه له جزئياتونه دي اصول اوکليات وټاکل شي هم داسي دي بيا له دي اصولو اوکلياتونه مسائل وايستل شي لکه څنگه چي دقرآن په رڼاکي له ټاکل شويو کلياتونه مسائل ايستل کيږي .

دادرجه دالله (ج) له کتاب نه وروسته يواځي درسول الله (ص) سنت ئي لري درسول الله (ص) له سنتونه ماسوادهيڅ يوامام، اومجتهد اجتهاداتو او استنباطاتونه دامرتبه حاصله نه ده چي دهغه اجتهادونه دي مونږ ته داصولواوقالب په توگه په کارراشي . او مونږ دي هغو ته دکلياتوحيثيت ورکړو اودمسئلو دتخريج لپاره دي تاداو وگرزوو .

درأي اجتهاد :

لکه څرنگه چي سنت دالله دکتاب ځخه کوم ځانله ځيزنه دي په همدي دول دراي اجتهاد هم له کتاب الله اوسنتو ځخه کوم ځانگړي شي نه دي دراي له اجتهاد نه مقصد دادي چي که پيښيدونکو معاملو په باب په قرآن پاسنت کي کومه واضحه خبره موجوده نه وي نودهغه په باب دي دقرآن اوسنتو داشاروپه رڼاکي غورووکړي شي ترڅومعلومه شي چي دکتاب الله اودرسول الله (ص) له سنتوسره نژدي اوموافقه خبره کومه کيداي شي .

شريعت چي ددي کارلپاره کوم شرطونه ايښي دي دهغي له مخي يواځي هغه خلك ددي منصب اهل گڼل کيداي شي چي ددين په باب ديره ژوره پوهه ولري اومزاج ئي دکتاب اوسنت له مزاج سره پوره مناسبت ولري اوهم دژوند دمعاملو په تيت اوپاس کي دهغومقصدونو اومصلحتونو نه ښه خبروي چي دشريعت په حکمونوکي ورته پاملرنه شوي ده . او بياتردي ټولو مهمه داچي دهغه عملي اواخلاقي درجه دي دومره اوچته وي چي دهغه په باب داشبهه ونه کړي شي چي هغه به دالله ددين په معامله کي خپل خواهشات هم په پام کي نيولي وي .

يادي دچادويري اوتمي له امله په دروغو اجتهادونه کړي وي اوددروغو فتواوي دي ورکړي وي .

په فتوي اواجتهاد کي دسلفو احتياط :

ترکوم وخته پوري چي په مسلمانانوکي ديني روح موجودوهرکس اوناکس ددي مجال نه درلود چي هغه دي داجتهاد اوفتوي ورکولو جرأت وکړي ، رسول الله (ص) په دي باب فرمايلي دي : (څوك چي لـه تاسوځخه په فتوي ورکولوکي ترټولو زيات زړورو هغه دوزخ ته په وردانگلوکي ترټولوزيات زړه ورډي). درسول الله (ص) ددي زورتني له امله خلکوپه اجتهاد کولو اوفتوي ورکولو کي دومره له احتياط ځخه کاراخيسته چي ترهغي ئي زيات تصور هم نـه کـيده . حضرت براء (رض) فرمايي : چي ما د انصارولـه جملي نه درسول الله (ص) له يوسل اوشلو داسي صحابه ووسره ليدلي چي دهغوي داحتياط حالت به داسي و چي کله به له هغوي نه دکومي مسئلي په باب پوښتنه وشوه نوله هغوي نه به دهريوه داهيله وه چي کاش ! ددي مسئلي دښودلو ذمه واري کوم بل چاپه غاړه اخستي وي .

حضرت عمربن عبدالعزيز رحمة الله عليه خليفه و دهغه دمنصب له ذمه واريو ځخه داخبره هم وه چي هغه په مينځته راتلونکي معاملي هم فيصله کوي . که دهغه قاضيان اومامورين په کومه معامله کي هغه ته رجوع وکړي نوهغه به ورته لارښوونه کوي ليکن دهغه داحتياط داحال ؤ چي يوځل دهغه يوعامل په يوه معامله کي هغه ته رجوع وکړه نوهغه ورته په ځواب کي وليکل : «په خـداي (ج) مـي دي سوگندوي ترکومي چي دفتوي له ذمه واري نه بچ کيداي شم ترهغو دفتوي ورکولو هيله من نه يم ستاسي علم ددي ذمه واري لپاره کافي دي » هم دهغه ارشاددي چي وايي : «څوك چي دفتوي له ذمه واريو نه څومره زيات باخبره وي هومره به زيات چوپ وي اوڅوك چي تري څومره زيات ناخبره وي هغه به په فتوي ورکولو کي هومره بي باکه وي ». سفيان ثوري (رح) فرمائي چي دفقهاو داحال و ترکومي به چي دفتوي له ذمه واريو نه بچ کيداي شونوترهغي به ئي له فتوي ورکولونه ځان ساته يواځي په دي صورت کي به ئي دادروند بار اوچتاوه چي هغه به بالکل مجبوره و دحضرت امام احمدبن حنبل (رح) ارشاددي چي که چاخپل ځان دفتوي لپاره وراندي کړ هغه په خپل سرديره لويه ذمه واري واخسته مفتي ته داخبره يادساتل پکارده چي هغه دالله (ج) په نامه دامراونهي اعلان کوي اويوه ورځ به له هغه نه په دي باب پوښتنه کيدونکي وي . حضرت عمر(رض) به ويل چي : تاسي خلك له مونږنه فتوي غواړي زمونږ داهيله وي چي کاشکي له مونږنه فتوي ونه غوښتل شي . دحضرت امام مالك (رح) په باب راځي چي کله به له هغه نه کومه فتوي غوښتل کيده نوهغه به دهغي ځواب په داسي ويره ورکاوه چي گواکي دجنت اودوزخ ترمينځ ولاردي . له سلفو نه دداډول اقوالو پوره دفترموجوددي .په دي ځاي کي داپوښتنه پيداکيږي چي آخردي حضراتو په اجتهادکولو اوفتوي ورکولو کي له دومره احتياط او پرهيزگاري نه ولي کاراخيسته ؟ کوم کارچي ئن سبا زمونږ ددينې مدرسو ادني مدرسينو هغه دخپل کيڼ لاس کارگڼي. آخر په دي کي څه اشکال موجودوچي دعمربن عبدالعزيز اوامام مالك رحمة الله عليهما غوندي خلك هم له هغي نه سخت په ويره کي وو؟ ددي ځواب دادي چي هغوي په دي خبره ښه پوهيدل چي دکومي معاملي په باب چي دالله (ج) په کتاب اودرسول الله (ص) په سنتوکي واضحه لارښوونه موجوده نه وي نوپه هغي کي له ژبي نه کومه خبره راويستل دديري لويي ذمه واري کاردي . په دغه ډول معاملوکي دکتاب الله اوسنت له اشارونه لارښوونه حاصلول اوبياداتعينول چي فلاني خبره دالله اودهغه درسول (ص) دشريعت مزاج ته نژدي ده هغوي څه آسان کار نه گاڼه هغوي له دي رازنه بي خبره نه وو چي ددي امت هستي دالله له کتاب سره په تړاو کي نغښتي ده يومجتهد يايومفتي دخپل غفلت اوياکم علمي له امله دي تړاوته تاوان رسولي شي چي وبال ئي په امت هم راتلاي شي اوله همدي کبله به دهغه خپل آخرت هم بربادشي. هغوي له دي حقيقت نه بي خبره نه وو چي يومجتهد اومفتي دخداي اودهغه دبندگانوترمينځ وسيله جوړيږي اودالله په نامه يوځيزحرام ياحلال گرزوي همدالامل دي چي په دي معامله کي دهغه غلطي څه معمولي غلطي نه ده بلکي په ځينوحالاتوکي دهغه غلطي دتوحـيد اوشرك سوال راپيداکوي .

که ددي عصردمفتيانوپه ځير دهغوي په مخکي هم ديلابيلو امامانو ترتيب شوي فقهي ايښـي واي اودهغوي کاريواځي همدومـره واي چي دهغوي اقوال بيان کړي بي له دي ځخه چي پلټنه وکړي چي ددي اقوالو سند په کتاب اوحديث کي شته اوکه نه اوکه شته په څه ډول دي اودهغي حيثيت څه دي اويواځي دهغوي اقوال ئي نقل

(٦) مخ

نوي ساينس دقرآن اوحديث په رڼاکي

حبيب الله "شرف"

زمونږدادعوه چي اسلام دژوند يومکمل قانون دي برحقه ده ، دازل ځخه ترابده پوري ټولي مسئلي پدغه اخري الهي کتاب (قرآنکريم) کي ميودل شوي مگردهرنوي ايجاد په باره کي بعضي مسلمانان فکرکوي چي ددغه ساينسي انقلاب ځخه وروسته اسلام به دڅومره مشکلاتوسره اخته شي په خاص دول دکم علمه مسلمان ايمان په لرزه کيږي اوانديښنه کوي چي اسلام تراوسه خپل حقانيت ساتلي خداي (ج) پوهيږي چي لدي وروسته به ئي څه حشرکيږي ؟

دساينس له اړخه په اسلام باندي کومه نيوکه نشي کيداي داځکه چي داسلام بنسټ پرقرآن مجيد ايښودل شويدي اودقرآنکريم پراحکاموديقين په لرلوسره عمل کول اسلام دي داچي ديرکسان داوايي قرآنکريم دساينس سره اړيکي نلري خبره ئي سل په سلوکي غلطه ده، دايوحقيقت دي چي قرآنکريم بوازي دساينس په باب نه بلکه دژوند دټولو اړخونولپاره مستند قوانين لري چي په عملي کولو سره ئي ښه اوسوکاله ژوند جوړيدي شي .

دمحمداحمدالعمرادي دوينامطابق دقرآن په (٦٦٦٦) آيتونوله جملي نه (٧٥٦) يعني دقرآن نهمه حصه دفطرت دمظاهرو اوپه هغوباندي دغوراوفکر کولو راسا دعوت ورکوي ، بالاخره دهغودتحقيقاتو اوپلټنوپرترځ کي معلومه شوه چي قرآن حکيم ١/٩ برخه دساينس په باره کي ده .

الله تعالي انساني فطرت ته په مستقيمه توگه وعلم ادم الاسماء کلها فرمايلي دي يعني دگردپښتيزساينس ښوونه ئي کړيده . د« اسم » دکلمي پيژندل تحقيق کول اوحقيقت ته رسيدل اودفوائدو اونقصاناتو پيژندل دبشي ادم کاردي. الله (ج) په ملايکوباندي بنيادم ته ځکه برتري ورويښله چي هغه ورکړشوي الهي سبق يادوي. کله چي انسان نوي ځيزوگوري دپلټنو ځخه وروسته پخپله پري نوم ږدي .

الله (ج) ځمکه اواسمانونه اوټول ځيزونه دانسان لپاره تابع کړيدي .

(الجاثية - ١٣)

اوس په دقيقانه نظر سره دساينس اوقرآن دمماثلت لرلو يوه جايزه اخلو: ترټولو لومړي درحمن سورة کي گورو . الله (ج) فرمايي « په سمندرکي بيړي دي چي دغرونو پشان ولاړي دي »آيا (١٤٠٠) کاله پخوادا سي ستري بيړي موجودي وي ؟ په رښتيا سره چي هغه عصر ورڅخه محروم و دايي دنني عصر په باره کي فرمايلي دي . الله (ج) فرمايي «تاسي دهغي ورځي انتظار وکړي چي داسمان ځخه يوصاف دود(لوگي) ښکاره شي اوخلك احاطه کړي » تاسي ووايا ست دغه آيت مونږته دآينده حالاتو وړاندوينه نه وايي .

په عربي کي کهف ، غار، غراو دړا ته وايي الله په سورت کهف کي داصحابو کهف واقعه بيانوي په کومه چي دهغو دخوسووکلونو بيده پاتي کيدل بغيردخوړوڅخه ئي ليکلي دي .

دادخداي (ج) دقدرت يوه ښه ده چي ددي ځخه مونږته په ښه ځرگنديږي چي دمرگ ځخه وروسته دبياژوندي کيدو خبره داسي يو حقيقت دي چي انکارورڅخه نشي کيدي دذوالقرنين په واقعه کي دهغه قوم يادونه شويده چي دذوالقرنين ځخه دمرستي غوښتنه ددي لپاره کړيوه ياجوج ماجوج به تنگول بياذوالقرنين داوسپنواومسوپه ذريعه دهغه لاري بندول دکومي خبري سبق ورکوي ؟

ځرگنده ده چي داوسپني اومسوه کلکوالي رانيسي .

دقمرپه سورت دقيامت په نژدي کيدو سـره دسپوږمي دچاوديدو وړاندوينه شويده . دنمل په سورت کي دنويو نويـو سپرليو:پيداکولو يادونه شويده « پـه راتلونکي کي به داسي نوري سپرلي هم پيداشي کومي چي تاسي نه پيژني » دعنکبوت په سورت کي دغهي دجالي (ځالي) ذکردي .

خداي (ج) انسان خپل نائب مقررکړچي غته وجه ئي علم دي الله (ج) دهرشي پيداکوونکي دي الله (ج) په انسان کي هم داصلاحيت ئي امانت فرمايلي دي چي دنيا تسخيره کړي ځکه چي خداي (ج) خپله فرمايي : « دانري اوددي هرڅيز،سپوږمي ، لمر ، غرونه ، بحرونه او(دريابونه) سيندونه هوااوداوبه ، ټول هرڅه ستاسي لپاره دي دفکرڅخه کارواخلي » .

دنمل په سورت کي خداي (ج) فرمايي :« اي محمده(ص) کوم کتاب چي مودرباندي نازل کړيدي پدي کي مودهرشي پـه بـاب ذکـرکړيدي اودمسلمانانولپاره ستر هدايت ، رحمت اوزيري اوروونکي دي »(نحل - ٨٩) دص سورت ٨٧ آيت کي الله (ج) فرمايي « داقرآن دنړي خلکوته بس يونصحيت دي » لـه دغه ټولو خبرو ځخه په ښه توگه محسـوسولي شوچي يوازي قرآنکريم دټـولـو سـاينسي پرمختگونو عامل دي ، پدي کي دهرايجادنظريه پرته ده ددي لپاره اړتيا برېښي چي مونږ دتحقيق اوپلټني ځخه کارواخلو . (نوربيا)

مولانا مودودي دپانسي په تخته

ژباړه اولنډيز: ذبيح الله شرر

د متي په اووم تاريخ له محکمي پروگرام سره سم پوځي محکمي ته د جماعت ديښاغلو دورلو تياري ونشوه . هلته دمولاناتاريخي محاکمه سرته ورسيدله محکمه دمرکزي زندان په يو سالون کي دائره شوي وه او يکي د پاکستان هغه شخصيت دمجرمانو په پنجره کي ودريده چي په دي ملك کي داسلامي تحريك د چلولو په تور تورن شوي و .

په مرکزي زندان کي ددي محاکمي گڼ شمير مينه وال راغونډ شوي وو، په لومړي سر کي يواځي پنځلسو کسانو ته دننوتواجازه وه خويبا يو يو کس ورننوتلو ان چي سالون ترخولي پوري ډك شو.

مولانا د تورن په حيث د قاضيانو د ميز ترڅنگ خپل تحريري بيان ولوست چي په همدغه شيه بي دوه بجي دمياطفيل محمد په مشوره ليکلي ؤ. لب ولهجه بي د دروندوالي ، وقار اوحوصلي څرگندويه وه . په مولانا د " قادياني مسئله " د خپرولو تور لگيدلي ؤ. کله چي بيان ختم شو نو مولانا په يوه چوکي کښيناست ، شاته بي سيد نقي علي اودقادياني مسئلي د چاپوونکي مطبعي دوه مالکان هم دتورنو کسانو په حيث ناست وو.

محاکمې ورته د سرکاري وکيل اودهغه دمعاون چوکي پرتي وي . دقاضيانو مشرآيي آيي .گيلاني په سوچونو کي ډوب ؤ. دمشرقاضي بي لاس ته ناست سرې ډيرچالاك ؤ.مشريه له هغه سره ساعت په ساعت مشوري کولي . دمشرکيڼ اړخ ته يو بل کس ناست ؤ چي په پټو سترگو اوچريه خوله بي ټول وخت تيراوه . يو بل کس دمحکمي جريانات ليکل .

دمحاکمي په جريان کي چي کله څه توقف راغي نو مولانا دنعيم صديقي .مولانا اصلاحي اونوروروحستانو ليدلوته ورواندي شو اوله مصافحي سره بي ورته وويل :

" تاسي سخته بي وفايي وکړه "

" تاسي سخته بي وفايي وکړه "

" نه مولانا ! سودامه کوئ " . مونږ درله شپه پس راتلونکي يو" نعيم صديقي فوراً ځواب ورکړ اومولانا وموسکيده .

له مولاناسره ډير وخت وروسته د دوستانو ليده کاته کيدل ، هغوي له مولانا نه دشاهي کلا دحال احوال پوښتنه وکړه " ظالمانو پوره ۲۱۶ ساعته بلکل يواځي وساتلم " مولانا ځواب ورکړ.

داسي خوبي په تکلف نه کړي "

" نه ، کړه دړه بي شريفانه ؤ ، څه بد وضعيت له ماسره نه شي کولاي " مولانا وويل .

نعيم صديقي مولانا ته داخبره شروع کړه چي ماسگرت پريښودلي دي . " داسي مه کوه

زندان ته چي راتلي نو داسي بي پريښوده لکه چي کله دي هيڅليلي نه وي . که موقع په لاس درغله نو بيا بي وڅښه اوښه بي وڅښه که درباندي بياسخته راغله بيابي پريږده " دسگرټ په هکله دمولانا ځواب بالکل دخپل پاڼ هغه په شان ؤ.

د متي د (۷) تاريخ په ماسپښين دمحکمي جريان پاي ته ورسيد اوچي کله مولانا له محکمي نه راووت نو خلك ورسره ديوي مظاهري په شکل ملگري شول او مرکزي زندان تردروازي پوري ورسره لاړل . مولانا له سلام نه وروسته زندان ته ننوت اوکړکي بنده شوه . دهغه دوستان ، خپلوان اوعزيزان تري هم خپلو کوروتو ته ولاړل .

د متي په (۸) تاريخ دمولانا په هغه بيان بحث کيده چي نومړي وتيلي ؤ حکومت ديوتانه دار په شان فکر اوسچ کړي . چودري نذيراحمد خان مولانا ته دا مشوره ورکړه چي که ستاخوښه وي (نومړي دمولانا وکيل ؤ) نو ته هم دومره وليکه چي په اخبار کي دڅپور شوي بيان ټکي په ټکي رښتيا والي اوژما له ليکني سره بي مطابقت ضروري نه دي . نوربحث به بيا زه کوم .

مگر مولانا دا مشوره ونه منله اوکله چي محکمي داخبار هغه گڼه وړاندي کړه چي د مولانا بيان بي خپورکړي ؤ. نو هغه پاڅيد او ويي ويل : هو!دازمابيان دي اوزه بي ديو يوټکي مسئوليت په غاړه اخلم .

په هغه ورځ له دواړواړخونو دشراهدو وړاندي کول مکمل شو.

معلومه نه ده چي په محکمه کي څنگه داخبره دمولانا غوږ ته رسيدلي وه چي دهغه دوستان بيانيول کيږي نو هغه پخپله داخبر له محکمي نه دمرکزي زندان په لوري دتگ په وخت کي په منډه منډه مولانا اصلاحي ته ووايه . ددي خبر په اوريدو دمولانا اصلاحي اونعيم صديق حالت بدل شو ځکه چي هغوي داځل خپل نيول له يوي بلي زاويي ليدل. ايا

حکومت غواړي چي په دوي نوي تورونه ولگوي که به غواړي چي دمولانا په هکله داسي پريکړه وکړي چي دممکن عکس العمل دمخنيوي لپاره بي د دوستانو نيول ضروري دي ؟ د مولانا دوستان په دي پوه وو چي هغه ته به څه سزاخامخا ورکول کيږي خو دا اټکل بي کاوه چي ايله که اوه اته کاله بند پري وخيژي .

په زندان کي يو خوا دقادياني مسئلي ليکوال دکوټو قللي په مصيبت کي گيرؤ او له بلي خوا په همدغه زنداني کي دوه قاديانيان ميرزاناصراحمد اوميرزا محمد شريف چي د ميرزا بشيرالدين محمود خوي او ورور وو، له هغوي سره بالکل امتيازي سلوك کيده ، په شاهي بلاك کي بي ځاي ورکړي ؤ. د زندان مدير بلکه پخپله د پوليسومشر چي قادياني هم ؤ، سهاراوماښام به ورته راتلل ، شکايتونه به بي اوريدل او نازنخري به بي ورله تيرولي.

د ۱۹۵۳ م کال دمتي په (۱۱) تاريخ د لاهور په مرکزي زندان کي دمولانا په امامتي دماښام لمونځ ادا، کيده چي د پوځي افسرانو اود زندان دمامورينو يوه پنځلس کسيزه ډله دهغوي په خوا کي ودريده .

د ماښام لمانځه نه وروسته هغوي له ټولو مخکي د مولانا ملگري ملك نصرالله خان عزيز د " تسنيم " اخبار مدير ته له مارشل لا، نه پخوا د مولانا دويبيان دنشرولو په جرم د دري کاله سخت بند سزا واوروله . بيا بي سيد نقي علي ته مخ واړوه ، هغه ته بي د قادياني شب نامي د نشرولو په جرم د نهه کاله سخت قيد سزا واوروله .

بيا بي مولانا ته وويل " تاسي ته دقادياني مسئلي دليکلو په جرم دمرگ سزادرکړل شوي ده دنظامي حکومت د قانون له مخي تاسي دسزاپه ضد درخواست نه شي ورکولي ، خو که غواړي نو په اوو ورځو کي له اعلي سرقوماندان نه درحم غوښتنه کولاي شي "

په څو ټکو کي دمرگ اوږوند فيصله ليکل کيدله .

زه له هيچا نه درحم غوښتونکي نه يم " مولانا په کلکه ځواب ورکړ . دجيل مامورينو ملك نصرالله خان عزيز اوسيد نقي علي ته ووبل چي تاسي اوس دهغه بنديانو بلاك ته ولاړشي چي سزابي معلومه شوي ده .

مولانا مودودي ته بي وويل : تاسي به د پانسي کوټي ته ځئ .

لږ شيبه وروسته بي مولانا ته دپانسي دکوټي مخصوص جامي ور واغوستلي اوهغه کوټي ته بي بوته چي ډيرالونه بي ډپولادو په شان کلك وو، يو روزان هم پکي و چي د اوسپني کلك سيخان پکي ټومبل شوي وو. ددي کوټي شاوخوا اوسپنيز ديوال هم موجود ؤ اوهره شيبه به پري پيره ولاړه وه . مولانا دکوټي مخي ته اودس وکړ اودماسخوتن لمونځ بي ادا، کړ. دهغه دماښام او ماسخوتن په لمونځونو کي څومره فرق ؤ، دماښام په لمانځه کي هغه امامت کاوه اواوس بي دماسخوتن لمونځ يواځي ؤ.

دلومړي لمانځه په وخت هغه يو داسي هيواد وال ؤ چي په ضد بي هيڅ ډول جرم نه ؤ ثابت شوي ، په داسي حال کي چي د دويم لمانځه نه مخکي هغه د پانسي ورمجرم بلل شوي ؤ.

دا دقدرت کرشمي دي اوهيچا ته دامعلومه نه وي چي په راتلونکو شيبو کي به ورته څه پيښيږي

له لمانځه ، تلاوت اومختلفو دعاگانو اووظيفو له لوستلو وروسته دترپال په دوه فټه پلن اوپنځه نيم فټه اوږده بستر پريووت اولرساعت وروسته په خوايه خوب ويده شو.

پيره دارانو په حيرانتيا يو بل ته کتل چي آيا د پانسي کوم مجرم هم داسي بي غم ويده کيدلاي شي ؟

د مرگ سزا له شرق نه تر غرب پوري په درنگ ساعت کي خپره شوه ، هر سړي هك پك ؤ چي دي حکومت څه نه خوښه کړي ده ! ايا داسي به وشي ! احتجاجي تقريرونو ، مظاهرو اودملك دننه اوبهر اعتراضونو اواخبارونو مخونه ډك کړي وو، په هرځاي اوهرمحفل کي دمولانا په سزابحث اوخبري کيدلي .

د متي د مياشتي په ۱۲ تاريخ د مولانا کور ته دهغه د دوستانو ، مينه والو اود جماعت دکارکوونکو سيلاب راروان ؤ ،تقريباً ټول لاهور دمولانا له کورني سره د خواخوږي په خاطر راغلي و. دمولانا ميرمن دمنځو په مينځ کي دصبراوسکون ديوغريه شان ناسته وه، هغي په هغه ورځ هم خپل بچي مکتب ته وليږل چي په ټول پاکستان ماتم گډ ؤ. دمولانا تحريکي ملگري سلطان احمد غوښتل چي د دروازي له شانه دمولانا ميرمن نه تسلي ورکړي اوددغي شيبي لپاره بي ځان په ډيره سختي آماده کړي ؤ. نوربيا .

دائتلافي اداري وروستي سلگي اودهيواد والو دانتظار شيبي

محمد يونس

په يوه ټولنه کي داسلام مقدس دين عملي کول دظلم اوفساد په مقابل کي يوحقيقي انقلاب دي . هرهغـه ملت چي ظالم حکومت پري مسلط شي که هغه حکومت په هره نامه وي که ديموکراتيك وي ، سوسيالستي اويا امپرياليستي وي ، پرخلاف بي الله (ج) قانون وضع کړي اووايي چي اي خلکو پرتاسي څه شوي چي دظلم اوفساد په مقابل کي چي په مظلوم باندي تيري کيږي جگړه نکوي اومظلوم دظالم له تيري څخه نه ژغوري .

دازمونږ،مومنو اويادرکه هيوادوالوته پوره جوته شوي چي رباني اوائتلافي انډيوالان ئي اوورسره يهرني پټي ځيري پدي دوه نيم کلنه دوره کي چي تقريباً يواځي دکابل په مرکزي سيموکي د۲۷ - ۲۸ خونړيو نښتوباعث گرځيدلي اودکابل په بي گناه بياريانوباندي ئي ناتارجوړکړي په کابل کي داسي کورنشته چي هغوي ددغوسپړي خورو دظلم اوتيري له لاسه ځوځلي دکابل نه بهرنوروولاياتوته هجرت نه وي کړي پدي ئي چي دزړه تسکين ندي شوي په نوروولاياتوکي ئي هـم دنفاق تخم شيندلي اودجگړي اورته ئي لمن وهلي لکه دميدانښار اووردگوجگړي دځانځيو بيسنه په لغمان باندي بمباري په تگاب اوسروبي بانـدي وحشيانه يرغل اوبمباري اودسروبي دجومـات او لمونځکونکو اومسافروشهادتونه .

څوکله چي دائتلافي اداري جبره خورو دهماهنگي دعالي شورا په مقابل کي دجگړي په ډگرکي له ماتي سره مخامخ شوي اوځمکه ورلاندي سره شوي بيانوداوريند لپاره داخلي اوبهرني دسولي وفدونو لکه دقوماندانانو شورا، اصلاحي شورا، دعلماو ، داسلامي کنفرانس دپاکـسـتان، ايران اوملل متحد رسمي اوغيررسمي وفدونوته ځولي غـوړولي اودسولي اواوريند دتامين لپاره بي وړاندېزونه کړي خوکله چي دغه دسولي هيئتونوداوريند لپاره منلوي ترري شروع کړي اودهغوي دهلوځلو په نتيجه کي دهماهنگي دعالي شورا ځواکونه دي ته حاضرشوي چي دسولي دهيئت داحترام لپاره دخپلو معقولوشرايطو دعملي کولو سره اوربند ومني خوڅه موده وروسته بيا دائتلافي اداري لويغاړي داوربند نه په گټي اخستوسره دخپلو ځواکـونو داکمال اوهغوي ته ددمي (اسـاه ورکولو) وروسته په غلچکي ډول په يوبراخه اووحشيانه يرغل لاس پوري کړي .

اوس چي درباني دائتلافي اداري دغيرقانوني دوري وروستي سلگي دي هيوادوال پدي ئمه دي چي دافغانستان جهادي مشران، دسودان دجمهوررئيس مرستيال اودملل متحد ځانگړي استازي محمودمستيري، دپاکستان داستخباراتو پخواني مشرمتقاعد جنرال حميدگل هلي ځلي به څه نتيجه ورکړي اوملت دبرهرونو لپاره به پتي شي اويابه په رباني اوانډيوالانو ئي څه مثبته اغيزه وکړي .

اگرچي هيوادوال پدي اوسنيو هلوځلو هم دومره مطمئن اوباوري ندي ځکه چي داسي اوريندونه تعهدات اودموقتي اداروپه جوړولو ډيري موافقي شوي دي خوڅه موده وروسته بيا لکه دپخوايشان دائتلافي لويغاړو لخواتولي معاهدي ماتي شوي دي. اوس دافغانستان مسلمان ولس دادرك کړي چي رباني دتصميم نيولو جوگه ندي اونه په افغانستان کي دامن لپاره په جرأت باندي کومه طرحه وړاندي کولاي شي رباني دخاد دجهنمي دستگاه ، دخاد شبکه محاکمه کيږي له هندوانو اوروسانونه په په بين المللي سطحه دافغانستان دتباهي دجبران غوښتنه کيږي بيابه دظالم اوفاسد مخه نيول کيږي طبعاً داسي خلك چي په مسلمانانو باندي دهيڅ راز تيري اوظلم صرفه ئي نه وي کړي هغوي ته به په دي هيواد کي اوسيدل گران وي .

زه رباني اودهغوي دجوړشوي ائتلاف سرلاروته داوايم چي ددادسي حوکي اوقدرت به څه خوندوي چي پدي دوه نيم کلنه دوره کي دي يوه ورځ هم نشته چي له ډماريو دتوپونو اواوراگانو له ناتارڅخه خالي اوآرام پاتي شوي خپل پلرني تاتوبي ته دتللو جرأت ونلري دکابل په څوکيلومتري کي په داومـن زړه ونشـي گرځـيدلي دهيوادونورو ولاياتو دوالـيانودکار دفترونه دي په کابل کي پرانسـتي دي دمثال په توگه دلغمان په اصطلاح دوالي دکاردفتردي په خيرخـانه کي پرانستي اويا داسي والي چي هغه لغمان ته دتلوجوگه هم ندي دلغمان سترنځي دډيمي خيـرخاني ځخه حل کوي پداسي حـال کـي چي دلغمان رسمي والي چـي ددغي ولايت دعاموخلکوملاتړ هم ورسره دي په خپل ولايت کي دخپل ولس خدمت کوي اودهغوي دژونددااسانتيا و له پاره هلي ځلي کوي يوځل دي « چي په کاله کي لرگي مومي ليوني به غره ته درومي » دلغمان دخلکوستونځي په خپل کورکي حل کيږي نوځـه ضرورت لري چي خيرخاني ته ورشي .

لنډه داچي داائتلافي اداري له رسوايي اوبي کفايتي پرته بله مانالري .

مونږدائتلافي اداري دمشرانوغوږونه يوځل بيا پدي حساسوشرايطوکي دخپل مسلمان بي اسري ولس غوښتنه رسوو چي راځئ نوردخپل خـيال اوهوس دخوب تعبيرغلط مه کوي واقعيتونوته غاړه کيږدي نورداخپل مسلمان مظلوم ولس په سرووښو لميدلي دادشپاړس کالودکمونستانواوروسانولخوادباروتولمبو وهلي ولـس سـه حـوروي دمجاهدينوځوکلن تاريخي برم اوشهرت په سيلاب مه لاهوکوي داستاسو هغه

(٧)مخ

ائتلافی اداره غواړی دا اوسنی مصلحین هم ناامیده کړي

مجيب

دا له هيجانه ډکه نه ده چي داسلامي انقلاب له بري وروسته څه کم دري کلونو په موده کي زمونږ مظلوم اوکړيدلي هيوادوال اوبالخصوص دکابل ښاريان ،دځيني ناعاقبت انديشه اوپه خيالي قدرت مينو مجاهد نماولواودهغوي دکمونستومؤتلفينو دلاسه دتيرو څوارلس کلونو په پرتله دزياتومشقتونو،کړاوونواوتباهيو سره مخ شول . اواوس هم دهغوي له اوتوپوتو اوګډوډو خبرونه داسي ګرګنديږي چي دمسئلي حل دسولي اوتفاهم دلاري نه غواړي اوپه دي خوښ دي چي ملت همداشان دکړاوونو اومصيبتونو سره لاس اوګريوان وي .

موږ په دي عقيده يو چي دا روانه ربړه به بالاخره دسولي اوتفاهم دلاري حل کيږي،څومره ښه به وه چي داربړه پخوا حل شوي واي او يا همدااوس هرڅه ژر حل شي . اوزموږ دکړيدلي ولس دسولي اوامنيت داميدونو مراوي غوټي دروانې لانجي دعملي حل سره بوځل بياتاندي اوزرغوني شي.

په لومړي سرکي دغه دقدرت ليواله مجاهد نماولي داسي انګيرلي وه چي ګواکي دوي به دکمونستانو په مرسته ډير زر هغه مخلص مجاهد بن چي څوارلس کاله يې دروسانودهغوي بريڅو (خلقيانو اوپرچمیانو) ته غاښ ماتوونکي ځواب ورکړي و له مخي لري او په خپله د تيرکمونست رژيم له بقاياو سره يوګډحکومت جوړکړي.

دا چي زموږ مجاهد ولس د څوارلس کلن جهاد ديوخاص هدف (په هيواد کي دسوچه اسلامي نظام)د ټينګښت په خاطر پيل کړي و،نو دهغي مجاهد نماولي اودکمونستو مؤتلفينو په مقابل کي يې مقاومت وکړ ،اوله همغه لومړي سر نه يې غوښتل چي داتيروتلي مجاهد نماوله خپلواشتباهاتو ته متوجه کړي .نو په همدي خاطريې هم له ځانه دفاع کوله او هم يې دسولي هر هيئت ته که هغه کورني مصلحين وو اوکه بهرني مصلحين اودجهاد د دوران

خيرخواه اودوستان ، هغوي ته په ورين تندي لبيك ويلي او له هر راز تعاون اوهرستي کولو څخه يې ډډه نه ده کړي ،خوبرعکس د نظار شوري اودهغوي نورومؤتلفينو په دغه تيرو دوه ديرشومياشتو کي يوازي دجنګ اوجګړي لاره خپله کړي ، او په دا اوږده موده کي که هرڅومره مصلحينو زموږ دهيواد رواني لانجي د اوارې په خاطر هلي ځلي کړي ترڅو دا ربړه د سولي اوتفاهم له لاري حل کړي نودهغو مصلحينو په وړاندي يې ياخو په همغه لومړي سرکي خنډونه ايجادکړي اويا خوبې دهغوي له هلو ځلو نه ناوړه استفاده کړي اودفرصت نه په استفادي سره يې دخپلوماتي خوړلو قواو نظم اونسق برابر کړي او له پوره اکمالاتو وروسته يې په رازراز پلمو اوغير مسئولانه اودنه منلو وړ اندېږونو په وسيله يې مصلحين دخپل پروسي له بشپړي کاميابي نه نا اميده کړي ، او دوي بيا دجنګ لړي له سره پيل کړي .

اوس چي يوځل بيا دافغانستان رواني لانجي د اوارې په خاطر ځيني مصلحينو لکه محمود مستيري دملګرو ملتو دعمومي منشي ځانګړي استازي ، دسودان دولت هيئت ،مولوي نظام الدين حقاني اودپاکستان د I.S.I پخواني مشر جنرال حميد ګل هلي ځلي پيل کړي ،او هم زموږ مظلوم ولس له هر وخت نه زيات دياد شوومصلحينوهلي ځلي په نيك فال نيولي او په دي اميد دي چي که خداي (ج) کول داځل به مسئله حل اوپه هيواد کي به دسولي اوامنيت فضا راميشځته شي.

ترکومه ځايه چي په حزب اسلامي اودهماهنګي عالي شورا پوري اړه لري

لکه مخکي مو چي وويل ، درواني لانجي دسرته رسولو ته تر دانن ورځي پوري يې دسولي هرهيئت سره پوره تعاون اوهمکاري کړي ،اوس هم دمحمود مستيري اونورو مصلحينو لکه دسودان دولت هيئت ، جنرال حميد ګل اومولوي نظام الدين حقاني سره يې دهيواد رواني لانجي داواري په اړه پوره همکاري کړي اوکوي يې ، زموږ ددغي ادعاثبوت دحزب اسلامي دمجاهد امير هغه مذاکرات دي چي جلال اباد کي يې دمحمود مستيري اود سوداني هيئت سره وکړل اوخبرو اترو په پاي کي يې دغومصلحينو ته دقناعت وړ يومېکانيزم ، دهيواد رواني لانجي داواري اودقدرت دانتقال په خاطر وړاندي اوله هغوي سره په توافق ورسيده ، او هم يې ددغومصلحينو په وړاندي اوهم د هيواد رواني لانجي د اواري لپاره دښه نيت څرګندولو په خاطريې يو هفته يې اوربند اعلان کړ ترڅومصلحين په ډاډه اومطمئن زړه خپلي هلي ځلي تونددي کړي ، او هم داوربند ترڅنګ دخلورو لويو لارو خلاصول په دغه موده کي بادولي شو . چي داکار په خپله ښيي چي دهماهنګي عالي شورا دهيواد رواني لانجي دحل په خاطر دسولي اوتفاهم لاره غوره کړي . او هم دغه روانو سياسي هلو ځلو ته خوشبين اوصادق دي .

برعکس ګورو چي مقابل لوري دغو مذاکراتو ته خوشبين اوصادق نه دي ، اوغواړي چي دغه مذاکرات هم دتيرومذاکراتو په شان له ناکامي سره مخ شي ، له يوي خوا دقدرت دانتقال خبري کوي اوله بل لوري دنه منلو وړ شرايط ږدي چي اصلاً نه غواړي له قدرت نه ګوښه شي ، له يوي خوا دسولي هيئت ليږي او له بل لوري بمباردکوي ، له يوي خوا وايي چي محمود مستيري دي راشي اوخپل دسولي پروګرام دي پيل کړي موږ دهغه په ذريعه دقدرت دانتقال پروسه پر مخ

(۷) مخ

دامتونو زوال اوبقا

ليکوال : محمد رحيم "خنجر"

هر امت ځانګړي اصول اساسي کرښي اومقدرات لري .

هره متمدنه ټولنه ځانګړي اخلاق ،عادات اوجلاتيبي لري چي له نورو پري جلا او ددوي دپايښت اسباب ګڼل کيږي .

اوله دي کبله چي ددي ټولني پايښت په دوي پوري اړه لري نو ځکه يې د پايښت لپاره يې هلي ځلي کوي ترڅوداځانګړي ټيني پخپل اصلي شکل پاتي اوخوندي وساتلي شي ځکه دا څرګنده ده چي که هره ټولنه خپل ځانګړي اخلاق اساسات اودينې اصول له لاسه ورکړي نو ټولنه د واقعيت له مخي له منځه ولاړه که څه هم ځوانان ، ښځي او نارينه يې په شکلي ډول ژوندي وي .

قومونه ښيخي لهمنځه نه ځي هغه چي له منځه ځي دقومونو عنري وي چي داخرت په لور باربيري څو امت داصولو په رڼاکي پايښي . که اصالت ، ژبه ، دين هغه اخلاق اوعادات يې چي له نورو يې ځانګړي کوي ژوندي وو .امت ژوندي دي او که دا اصول يې له لاسه ورکړل ، دين يې نه و، اخلاق ،عادات اوکلتوريې ورك شو او په نورو پسي يې د فکره اوعقل څخه په پټو سترګو ولاړل نو همدا زوال او له منځه تلل دي اويس.

نو چي د ين يې له منځه ولاړشي. اخلاق يې فاسد ،ژبه ، عادات ، اوکړه وړه يې بدل شي بيانو يې له تش نوم بل څه پاتي وي ؟

زه دلته د پخوانيو امتونو څو مثالونه وړاندي کوم .تاريخ پوهان وايي چي دي امتونو ځانګړي وجود درلوده . خوتشخص يې ورك او په نوروامتونو کي هضم شول که څه هم لمسيان ، منځي اوسږي يې موجود وو.

دامتحدي ټولني عبارت وي له فنقيانو اشوريانو ، فرعونيانو څخه تاريخ پوهان وايي دوي واکمن او ځواکمن وو خوسياله منځه ولاړل او هغه وخت له منځه ولاړل چي د دوي د تمدن ټيني ورکي دعقيدي څرنګوالي يې اوړيه يې هم بدله شوه چي بالاخره ددي ټولو او ښتونو په نتيجه کي نور امتونه وګرځيدل چي له

پخوا ښيو سره يې په هيڅ ډول اړيکي نه درلودي .

آشوريان په عراق کي په کلي ډول له منځه ولاړل که څه هم لمسيان يې او س هم پاتي دي خو اوسني عراق يو عربي مسلمان عراق دي چي له هغه پخوانيو آشوريانو سره هيڅ ډول اړيکي نه لري او هم داډول فنقيان په سوريه اوفرعونيان په مصرکي ،سوريه اومصر دواړه عربي اسلامي هيوادونه دي چي اوس ځانګړي ادب ، اخلاق ، عادات ، پاك دين اوځانګړي ژبه لري . اوهرڅوك پخپلو مقدساتو وياړي - او دهغوي پالني ته کلکه ملاوتړي . نوهيڅوك نشي کولاي چي دهغه امت بدلون اودتمدن اوځانګړو خصوصياتو دله منځه وړلو لپاره هڅه وکړاي شي .

بل مثال اندلس دي ، تاسو ته معلومه ده چي دايو عربي اسلامي هيواد و که دهرسړي د پنځم اوشپږم پلار نوم وپوښته شي نو خامخا به يا عبدالرحمن اويامحمد وي .

خو اوسني يې نوم مارسيل ، انطون اويا ميشيل وي اياموږ نشي هسپانيا ته پرونی اندلس ويلاي شو.؟

نه هيڅکله نه. ځکه دين يې بدل ، تمدن يې بدل اوهرڅه يې تبديل اوبالاخره يو بل څه وګرځيده .

همدا ډول موږ محمدي امت ځانګړي اصول ،صفتونه ، تمدن ، ژبه ، دين اوکتاب لرو نو که څوك هڅه کوي چي موږ له خپل دين ،تمدن اوژبي څخه يې لياري کړي معني يې داده چي موږ له منځه وړي .

